مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی ۲۰۲۲ / ۰۱ /۱۱

# د تن جګړه!

خوک د پنجاب خوک د کابل سره یوو
د تن جګړه کې ګډ یو بل سره یوو
یورپ دې عیش کړې امریکې سره ګډ
موږه لوېدلي منځ کې خپل سره یوو
زموږ ګاونډ هم په ارامه ژوند کړي
یوازې موږ ناست په مورچل سره یوو
سوله کې ژوند زموږ اروا کې نشته
جګړه کې ښکېل دایم او تل سره یوو
د تېر جنګونو له ټپو روغ نه یوو
د نوي جنګ جګړې تکل سره یوو
بخښنه نه کړو، اشتي نه پیژنو
موږه عادت غچ او بدل سره یوو
کرکه پاللې عشق نه، نه یوو خبر
موږ لارویان د عشق قاتل سره یوو
هیڅوک زموږ د بخت ذمه نه لري
موږ لیوني پیدا ازل سره یوو
راځئ چې ختمه کړو دا ورانه لوبه
په دې لار ستړي نور مزل سره یوو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ